ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-49

ماخذ تحقیقی مجلہ

OPEN ACCESS

CC BY NC

**ناصرہ بیگم**
پی ایچ ڈی ریسرچ اسکالر، پی ایس سی، باچاخان یونیورسٹی، چارسدہ ۔
**ڈاکٹر فقیر محمد فقیر**
لیکچرر، پشتو، پی ایس سی، باچاخان یونیورسٹی، چارسدہ ۔

# د خېبر پښتونخوا دپښتو د ښځينه افسانه نګارو په افسانو کښې تانيثيت

**Nasira Begum** *
Ph.D. Research Scholar, PSC, BKUC.
**Dr Faqir Muhammad Faqir**
Lecturer, PSC, BKUC.
***Corresponding Author:**

# The Feminism in Pashto Female Short Stories Writers of Khyber Pukhtunkhwa

In Pashtun Society of Khyber Pukhtunkhwa Women faces many difficulties in social life. They suffer every time from male dominant Society and not treated as mankind. They have no basic rights in life. They were torchers by men and not given education properly. They could not take any decision in life according their choice. Their weddings and all decision of life taken through the choice of men. The feminist movement gives them confidence and bravery for their life in society. Pashto Short stories writers explained all issues and difficulties of women life they faces in Pashtuns' society.

**Key Words:** *Feminism, Feminism in Pashto Female Short stories writers, Education, walwar, swara.*

د تانيثيت مفهوم:

تانيثيت د يو داسې نظر او نظريې نوم دے چې پکښې د ښځو د حقونو او انساني برابرۍ خبره کيږي ـ د صنفي امتياز ، د ښځينه او نارينه تر مېنځ د ناغوره او غوره تصور خلاف د يو والي او

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-49
ماخذ تحقیقی مجلہ

توازن راوستلو کوشش او اواز دے ـ دغه اواز او رجحان او په عمومي ژوند او په ادب کښې هم ځائے پېدا کړے دے او د يو مستقل تحريک او رجحان په شکل کښې څرګند دے ـ د ښځو د حقونو ،د رائے ازادي او پوره پوره د انساني برابری حق او غږ مخې ته راوړي ـ ددې خبرې مکمل مزاحمت او رد لري چې ښځه په انساني معيار کښې د سړو کمتر او کمزورې ده ـ د تانيثيت تحريک او نظر د ښځې د حقيقي مقام تعين هم کوي او د هغې د حېثيت ،اهميت، د ژوند د لارې د انتخاب حق هم ورکوي او په ادب کښې د دوي د هر سوچ او فکر په حقيقي معنو کښې وړاندې کول يې بنيادي مقصد او مرام دے ـ

کۀ مونږ د دنيا په هر ادب نظر واچوو نو دا خبره په عامه توګه څرګنديږي چې د ښځينه ذات په ادب نمائندګي سړو کړې ده او دوي د خپلې مرضی مطابق د هغوي جذبات، احسات او نفسيات بيان کړي دي او په دې کښې د خپلې خوښې خبرې مخې ته راوړي دي ځکه چې ښځو ته د ادب د تخليق او اظهار ښځو ته حق نۀ وو ـ ځکه دوي خپلې مسئلې ، فکر او نظر ادبي منظر ته نۀ شو پېش کولے ـ دغه وجه ده چې په ادب کښې يې صحيح صورت کښې نفسيات او داخلي جذبات په کلي او باقائده انداز مخې نۀ دي راغلي ـ او کوم شکل او طرز چې د سړو خوښ وو هم په هغه شکل کښې يې بيان کړي دي ـ کۀ د محبوبې په رنګ کښې د وفا او جفا جنس دے ،کۀ د مور په شکل کښې د قربانی نمونه ده او کۀ د خور د او کورودانې په صورت کښې د وفا تصوير دے ـ يا کۀ د حيا او بې حيايی نخښه ده دغه ټول د سړو د خپلې مرضی او خوښې ناخوښې په بنياد د ادب او تاريخ حصه کښې راغلي دي ـ

د تانثيت د تحريک يوه بنيادي نکته دا هم ده چې د سړو د غلبې معاشرې يا پدرسري نظام کښې د ښځو د ذهني تشکيل او نفسياتي اړخ هغه

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN(P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-49

تشریخ شوي ده کومه چې د هغوي د مرضی مطابق وه او ښځینه ذات یا زنانه شاعرانو د خپلې دغه حق تلفی خلاف مزاحمتي او احتجاجي رویې خپلې کړې چې په عصري ادب کښې د دغه رجحان نوم د تانیثیت په نامه مشهور شو ۔ (۱)

په اول ځل د فېمینزم دا نوم په اصطلاحي معنیو کښې دفرانس چارلس فوریر (Charles fourer) له خوا مخې ته راغلے دے او بیا په اکسفورډ ډکشنری کښې په ۱۸۹۶ء ځائے شو ۔

شازیہ تمکین، خواتین کے افسانوں میں تانیثی تصورات کا تنقیدی تجزیہ، پی ایچ ڈی مقالہ، شعبہ اردو مولانا آزاد نیشنل اردو یونیورسٹی، حیدراباد

دا اصطلاح د فرانسي ژبې د دوه لفظونو Femi او Esme نه وتلې ده چې په ترتیب سره د ښځینه ذات او د ټولنیز تحریک یا سیاسي نظریې معنا لري ۔ (۲)

د تانیثي یا د فېمینسټ اصطلاحي صورت اول اول د بېباکی او بهادری اظهار کوونکو ښځو د پاره استعمالېدو او بیا ورورو د ښځینه حقونو غوښتونکو یا نمائندګي کونکیو د پاره استعمالېدل شروع شو ۔ او د تانیثیت دا تحریک د ښځو د حقونو تحریک شو ۔ (۳)

دا تحریک د ښځو د ژوند سره د تړولو مسئلو ځرګندونه هم کوي او ددې د حل د پاره هم هلې ځلې کوي او عالمي سطح خپل کردار لوبوي ۔ د ښځو د بنیادي حقونو او ددوي سره د استحصال او ظلم زیاتي غندنه کوي ۔ په ښځو کښې د خپلو حقونو د پېژندنې او ددې د حاصلولو د پاره شعور او بېداري پېدا کوي ۔ د ښځو د ازادی او خودمختاری او مرضی خبره کوي ۔ او دوي په معاشره کښې په کم نظر کتلو،بندېزونو او ناوړې چلن خلاف مزاحمت ښکاره کولو همت پېدا کوي ۔

ددنیا په هره ټولنه کښې د سړو په مقابله کښې د ښځې کم حېثیت او د پدرسري نظام په سبب ښځې

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN(P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-49

ډېرې مسئلو او مشکلاتو سره مخ دي او څهٔ چې سړي غواړي هم هغه قانون وي او ددوي اختيار دے چې څنګه سلوک ورسره کوه ــ په ځينو ټولنو کښې ورته د انسان په نظر هم نهٔ شي کتلے ــ سړي دوي خپل داسې ملکيت ګڼي چې هم ددوي د مرضۍ مطابق به وي ــ خپل اختيار او خوښه يې د خپل ژوند په فېصلو کښې هم نشته ــ په خپل وجود يې هم د مرضۍ حق نشته ــ ددې صنفي نابرابرۍ خلاف دوي د مذهبونو، اقتصاد، سياست او معاشرتي اقدارو او دود دستور له طرفه هم مشکلات وو، ځکه چې دلته په هر څهٔ د نارينه اجاره داري وه ــ بيا هم دا تحريک د خپلو اعراضو او مقاصدو حاصلولو کښې تر ډېره حده کامياب شو ــ (۴)

ښځو ته مشکلات په دې وجه هم وو چې په دې پدرسري ټولنه کښې د هر څهٔ اختيارمند سړے دے او دوي ځان د پاره او د اختيار د پاره خپل خپل قانونونه جوړ کړي او ښځه يې کمزورې، بې وسه، لاچاره، محتاجه او کم حېثيته ښکاره کړې ده ــ او دا يې ښودلي دي چې ښځه صرف د سړي خدمت له پېدا ده او بس ځکه ورته د پښو د پېزار او د سر د سپيکې غوندې نسبتونه شوي دي ــ بس په معاشره کښې چې ورله سړو کوم مقام مقرر کړے دے هم دغه يې حېثيت دے او دوي به څنګه کمزورې ځيز له ښه مقام ورکولو ــ د ښځې او سړي نسبت په معاشره کښې د آقا او غلام وو ــ

> "په تاريخ کښې ښځه شته : خو هغه ښځه ده چې سړي يې را پېژني، ځکه چې زمونږ ټول تاريخ د سړيو تاريخ دے - د دې تاريخ په چوکاټ کښې د ښځو ځائے نشته او چې د تاريخ په پاڼو کښې راڅرګنديږي هم ،نو عمل يې د سړو تابع وي " (۵)

د تانيثي هلو ځلو او ددې تحريک عرض هم دا وو چې د ښځو بنيادي حقونه اومنلے شي، د رائے حق ورکړے شي ــ دوي د انساني برابرۍ په بنياد نظر

ISSN(P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-49



اوشي ـ او د بې انصافۍ مخ نوي اوشي ـ د ښځو باره کښې منفي رويو کښې بدلون راشي او هر هغه عمل مخ نيوې اوشي او غندنه اوشي چې د غېر مساوي سلوک نخښې لري،ښځو کښې بېداري پېدا کړي او دا شعور ورکړي چې دا هم انسانان دي او ښځه د انسان په حېث مقام او منصب کښې د کمتر درجې نۀ ده ـ (۶)

د لوې خدائے د اطاعت او فرمان درونډ پېټې او امانت نۀ يواځې د سړيو پر اوږو بار دے او نۀ يواځې د ښځو پر اوږو بلکې دواړه بشري اصناف به د لوې خدائے په وړاندې د خپلې وفادارى د ثبوط دليل وړاندې کوي ـ " (۷)

په ټولنه کښې د ښځې د اهميت د انساني تقاضو له مخه د سړي برابر دے ځکه چې دواړه انسانان دي او د بشري حيثيته برابردي ـ د سزا او جزا له حسابه به هم يو شان وي ـ

"ښځې او سړي د انساني ټولنې دوه ستنې دي د يو نه بغېر د بل وجود ممکن نۀ دے،دواړه لازم او ملزوم دي،او دواړه د انساني فطرت او قدت او منزلت په بنياد يو شان عظمت او اهميت لري ـ اکثر په پسمانده او زورګير نظام کښې د طاقت او برترى نشه کښې د برابرى دغه تله له معيار نې بې لارې شي ـ دغه زورګير او استحصالي قوتونه هر کمزورې د پښو د لاندې کوي چې وس څومره رسي ښځې نر غلامان کوي ـ دجنس د نزاکت په وجه بيا ښځې خپل ماتخت او کمزورې حسابوي او په کم نظر ورته ګوري ـ" (۸)

اسلام ښځو ته کمه درجه نۀ ورکوي او نه يې په انساني صفاتو کښې کمه ګڼلې ده ـ په سزا جزا کښې کښې هم يو برابر دي ـ اويو برابردي ـ

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-49



مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَ هُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهٗ حَيٰوةً طَيِّبَةً ۚ وَ لَنَجْزِيَنَّهُمْ اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۔(۹)

ترجمه: څوک چې نېک عملونه کوي او ایمان یې راوړي وي که نر وي که ښځې په دنیا کښې به پاکیزه ژوند مومي، او ددوي د ښو عملونو په بدل کښې به په آخرت کښې اجر ورکولې شي ۔

د تانیثي تحریک له کبله د ښځو په ژوند کښې ډېر بدلون راغلو او ښځو د حقونو ،ازادی،تعلیم ،صحت،سیاست ،روزګاراو جنسي ازادی مرامونه تر ډېره حده حاصل کړۀ ۔

د پښتو د ښځینه افسانو نګارو انسانو کښې تانیثیت:

پښتنه معاشره کۀ هر څو اسلامي معاشره ده خو پښتانۀ په ځینو مسئلو کښې په اسلام هم عمل نۀ کوي لکه د ښځو په تعلیم پابندي وي او په خصوصي توګه په غریزو سیمو کښې خو د ښځو تعلیم د شرم او بې پښتو کار ګڼلے شي ۔ دغسې په جائیداد کښې برخه نۀ ورکوي ۔ په وادۀ کوېدن کښې یې د خوښې ناخوښې تپوس پښتنه نۀ وي ۔ د کونډې ودولو رواج نشته او ښځو سره ډېر بد چلن کېږي او سپکې ګڼلے شي ۔ د هرقسمه کورني تشدد او زور زیاتي سره مخ وي ،د هېڅ قسمه حقونو اهل نۀ شي ګڼلے ۔ د روزګار او ګټې هېڅ قسمه موقعې نۀ شي ورکولې ۔ ددې قسمه مصېلو او نورو ورسره د نورو ورپېښو مسئلو انځورګري د پښتو د ښځینه افسانه نګارو په افسانو کښې په ښه توګه بیان شوي دي ۔ او ښځینه افسانه نګارۍ د ښځو په نفسیاتو ښې پوهیږي نو ددوي نمائندګي یې هم په غوره طریقه کړې ده ۔

تعلیم:

ښځه او سړے دواړه ددې معاشرې اهم انساني غړي دي او په تعداد هم سره برابر نزدې نزدې برابر دي ۔ د دواړه تعلیم د معاشرتي ترقی د پاره ډېره ضروري دے ځکه چې د تعلیم نه بغېر

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN(P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-49

ترقي ممکن نۀ او چي نيمه ابادي د ترقۍ د سفر نه معذوره شي نو د ترقۍ خيال هم عبث دے ـ
الله تعالٰي فرمايي:
قل هل يستوي الذين يعلمون والذين لا يعلمون (۱۰)
ترجمه: ووايه چي عالم او جاهل نۀ برابر کېدلے
اسلام کښي هم د تعليم په سلسله کښي سړو او ښځو دواړو د پاره يو شان حکم دے او په دواړو يي حاصلول فرض دي ـ ځکه خو زمونږ خوږ نبي فرمايلي دي :
طلب العلم فريضة علي كل مسلم - (۱۱)
ترجمه: په هر مسلمان د علم حاصلول فرض دي ـ
اسلامي تاريخ دداسي واقعاتو نه ډک دے چي د ښځو په علم او تعليم رڼا خوروي ـ حضرت ابو وداعه دحضرت سعيد شاګرد وو او د خپل استاذ لور سره يي نکاح شوې وه، د وادۀ په دوېمه ورځ چي ابو وداعه درس له تللو نو ښځي ورته ووې چي دغه درس چي کوم استاذ درکوي زۀ يي په کور کښي درکولے شم ـ (۱۲)
ددې مطلب دا دے چي هغې دغه علمونه لوستي وو او عالمه وه ـ

"د انسان ژوند تر هغه وخته پورې شائسته او مهذبه با اخلاقه او ترقي يافته نۀ شي جوړېدلے تر څو چي هم ددې کور دواړه وګړي په ګډه ترقي او نۀ کړي ـ نر او ښځه د عکس دواړه اړخونه دي او بيا د دواړو خوبي او ښۀ والي د عکس حسن وي لکه څنګه چي زړۀ او مازغۀ يو له بله سره تړون لري او يو د بل خيال ساتل کيږي ـ نو دغه راز د معاشرې د تهذيب د پاره د نر او ښځي تعليم ډېر حاجت لري ـ کوم خلق چي يواځې نارينه ته تعليم ورکوي او دغه ګمان کوي چي بس له دۀ څخه به قام

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN(P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-49

ترقي وکړي نو دا کټ مټ داسي خيال دے
لکه د يو مارغۀ نه چي يو وزر پري کړي
او بيا يي و اسمان ته والوزوي ـــ " (۱۳)

بې تعليمه ښځه نۀ خپل ځان ساتلے شي او نۀ د بچو او خاندان تربيت په سمه طريقه کولے شي او نۀ باوقار ژوند تېرولے شي ـــ خود اعتمادي او حوصله نۀ لري او نۀ د فېصلې کولو او خپل حق غوښتلو توان لري او د بل مختاجه وي او همېشه غلامی سره مخ وي ـــ کۀ چرې خپله يې ګټلې شوي نو د ډېرو خلقو د مختاجی او غلامی به خلاصه وه ـــ

عصمت بي بي په خپله افسانه "بلډوزر" کښي د جينکو په تعليم د بنديز خبره کوي

"هغې د ځان سره بيا سوچ اوکړو چې زۀ به کشمالې ته څۀ رنګ دا هر څۀ وئيلې شم چي زمونږ د مشرانو خبرې او زمونږ د مشرانو کارونه د قرآن ټکي دي ـــ دا هېڅ کله نۀ شي بدلېدے کۀ د انسان ژوند ترېنه شي خو دا بې ساه دستورونه او بې ساه رواجونه لکه د بلډوزر هر څۀ تس نس کړي ـــ ـــ ـــ ـــ هغې بيا سوچ اوکړو ـــ ـــ ـــ لورې ! تۀ خو د يو بلډوزر خبره کوې چي ستا د ګوډيانو کور يې وران کۀ ـــ ـــ ـــ ـــ دلته کو په قدم قدم بلډوزري دي ـــ ـــ ـــ
"زمونږ د قام قبيلې جينکی مدرسو ته نۀ تلے ـــ ـــ ـــ "
زمونږ د قام قبيلې جينکی د علاج د پاره د ښاريي هسپتال ته نۀ شي تلې په دم درود به څۀ کيږي ـــ ـــ ـــ ؟ ـــ " (۱۴)

وادۀ کوېدن:

دغسي په وادۀ کوېدن کښې د جينی رائے او خوښه هم ضروري ده او اسلام ددې مکمل اجازت ورکړے دے ـــ د بخاري روايت دے چي حضرت حنسه وايي چي زما پلار زما نکاح زما د مرضی نه بغېر

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-49


زما د ترۀ زوي سره کړې وه ــ ما چې حضرت محمد ﷺ ته شکايت وکړو نو وې فرمائل کۀ ستا مرضي نۀ وي نو دا نکاح نۀ کيږي ــ (۱۵)

په پښتنه معاشره کښې په دې اصلو هډو عمل نشته د لور خور نه په دې معامله کښې تپوس کول بېخي ضروري نۀ وي او اکثر خو په ماشومتوب کښې ورکولے شي لا داسې هم وي چې په روني کښې مېړلې شي او بيا يې خپل نصيب دے چې په هر څنګه انسان يا انسان نما ځناور پېښه شوه ــ بيا يې خلاصې هم نشته ځکه چې په دې ټولنه کښې ښځې ته دا تربيت ورکولے شي چې د پلار د کوره به په ډولۍ کښې ځې او د خاوند د کوره به په جنازه کښې ووځې، نور کښې هر څنګه ژوند يې وي په دغه روايت به عمل کوي ــ

په دې معاشره کښې د خوښې اظهار جينۍ وکړي نو لوې پېغور وي او دا رشته په مشکله کيږي ــ په عام خلقو خو څۀ چې په اعلیٰ تعليمافته جينۍ هم د خوښې قدغن وي ــ سلمٰی شاهين په خپله افسانه کښې دا څرګنده کړې ده چې يوه لېکچرره چې د ښځو د حقونو اواز هم پورته کوي او د ماما زوي سره ډېره مينه وي او د هغه هم ورسره مينه وي خو هغۀ له يې ور نۀ کړي او عجيبه داده چې ددې کشره خور ورکړي ــ

"ما به هر وخت هم دا سوچ کولو چې
په دې معاشره کښې د هلک جينۍ وادۀ
نۀ کيږي بلکې دا تړون دا تړون د
دولتونو تړون وي چې روحونه تر
مرګه اوېزاند پاتې شي ــ کۀ ما ډېر
ووې چې اے ظالمانو زمونږ خو يو بل
په کار دي ــ مونږ خپله مينه غواړو
ــ داسې د سمندر په غاړه د تندې د
مرګ جوګه خو نۀ يو لکه د ځناورو
په پړو د تړلو لائق خو نۀ يو ــ ــ
ــ خو زما خبره هېچا نۀ اورېده ــ

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-49

ماخذ تحقیقی مجلہ

زۀ هم ددغه بغضونو ښکار شوم ــ
زما د ژوند فېصله اوشوه ــ" (۱۶)

دا ځکه داسې اوشو چې په دې معاشره کښې د خوښې او مينې ښکاره کول لوې جرم دے ــ

په عامه معاشره کښې خو لا بد حالات دي ــ جينکۍ خبر هم نۀ وي او رشتې يې شوې وي ــ کۀ هر څنګه حالات وي جينۍ انکار نۀ شي کولے او کۀ وکړي نو د غټ پېغور خبره ده او داسې جينۍ ته په بد نظر کتلے شي او په معاشره کښې يې ځائے نۀ وي او د بدنامۍ سبب وي ــ او کۀ انکار وکړي نو د مرګ سبب هم جوړېدلے شي ــ لکه د حسينه ګل کاکاخيلې په افسانه " ثانګه" کښې ثانګه د ترۀ زوي سنګين سره مينه کوي کو ترۀ يې سمسور ته ورکړي او چې دا ددې پصلې نه انکار وکړي نو الزام پرې ولګولے شي او بيا د غېتر په نامه ووژلے شي ــ

" دې قيصې او وژنې هاغه وخت خپله يوه پټه ساتلې شوې برخه راښکاره کړه، اوس خلق په دې نتيجه رسيدلي وو چې د غېرت په نوم ددې بې ګناه قتل دويم کردار سنګين د ثانګې د مېرې مور په صلاح ثانګه کوټې ته کړې وه ــ او ددغه غل غوبل جوړ شو نو د سنګين مور په ډېره طريقه خپل زوے چرته وويستو او پټ يې کړو او بيا د ثانګې پلار د شوکت دنورو ورونو په صلاح په دغه وخت په هاغه کوټه کښې د ثانګې ځواني خاورې کړه ــ ددې نه مخکښې خلقو ددې کورنۍپه ننګ او غېرت فخر کولو خو دا خبره اوس يو نيم کوي کس کوله چې د ثانګې د سنګين سره هېڅ تعلق نۀ وو بس د سمسور نه د انکار کولو ګناه يې هاغه جرم شو کوم چې هغې نۀ وو کړې خو سزا يې دسرو وينو

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-49
ماخذ تحقیقی مجلہ

د شهادت په شکل کښې هغې مونډلې وه" (۱۷)

دغسې کۀ د زيتون بانو افسانې "شوکيدلې ګل" ته وګورو نو د يوې جينۍ زيبو ژوند په دې په دار وي چې په ورونې کښې د ماما زوي شفيق ته وئيلے شوې وي ـ هغه بد معاش او بد کرداره وي ـ په دې د تعليم پابندي هم لګوي ـ هغه څو ځله جيل ته لاړ شي ـ او زيبو ذهني بيماره شي او چې پلار يې ډاکټر له بوځي کوم، چې د هغه کلاس فېلو هم وي نو هغه ورته وايي دا روغه جوړه بس لږه ذهني مسئله ده ورته او بيا يې خپل کور کښې ډېره کړي او ايف اېس سي وکړي دغه دوران کښې يې دپلار د دوست زوي جاوېد سره چې هغه هم ډاکټر وي مينه پيدا شي،خو د ماما د زوي په نوم وي نو هېڅ نۀ کيږي اګر چې هغه اوس د يو جرم په سزا کښې عمرقېد وي ـ دا ټوله مسئله د يوې غلطې فېصلې په وجه جوړه شوې وي ـ

" او جاوېد په سوچ شو ـ په تېرو شپږ نيمو کالو کښې څۀ او نۀ شول ـ د هغه سترګې د زېبو د فارم پلؤ لګېدلې وې ـ تاباني! زېبو ته غږ کړه ـ وايه جاوېد خان راغلے دے ـ وايه دلته راشه کنه ـ
او ـ ـ ـ ـ لږه لحظه پس تابانه په بېرته راغله دواړه ورته په کتو شو ـ هغه مسکی کېده ـ
خان بابا زېبو وايي زۀ د چا امانت يم څنګه د يو پردي سړي سره ووينمَ ـ (۱۸)

سوره:

سوره هم په پښتنو کښې ډېر بد رواج دے ـ په دې رواج کښې د سړو په جرم کښې ښځې د سزا سره مخ کيږي او تول عمر په عذاب کښې تېروي ـ په دې دشمنۍ نه بچ کيدو د پاره لور خور

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-49
ماخذ تحقیقی مجلہ

ورکولے شي ــ ځکه چې د لور خور څۀ حیثت وي هغه خو هسې هم د بل د کور وي ــ

عصمت بي بي په "جل وهلے" افسانه کښې د جمیلې د خپل ترۀ د زوي آدم خان سره د مینې ذکر هم کوي او د جمیلې په سوره د وکولو او د هغې د ارمانونو د سودا کولو او په سوره د وکولو سره د هغې د جذباتو او نفسیاتو نمائندګي هم کوي ــ

"ادم خانه دا ډېره ښه شوه ــ ــ ــ
چې ورور مې د جېل د تورو تمبو نه بچ
شو ــ ــ ــ پښتني خوېندې خو تل د
ورونو شملې جګې ساتي ــ ــ ــ ورونه
مور راورې خو ډېر خوارۀ وي ــ ــ ــ
ــ په کور کلي حجره جمات کښې په
څلورو کسانو کښې ناست ولاړ وي ــ ــ ــ
خپل دستورونه او په پېړو پېړو راغلي
رواجونو نه څنګه تېښته اوکړي ــ ــ
ــ خان به پردي پېغور ته څۀ رنګه
پرېږدي ــ ــ ــ ــ ؟؟
سوره ورکول خو یو دستور دے د پېړو
پېړو راسې په پښتنو کښې او زمونږ دې
پښتني معاشره کښې ــ ــ ــ دا څۀ بده
خبره نۀ ده ــ ــ ــ پوره خاندان د
پېغوره بچ شي ــ ــ ــ ــ پوره خاندان
ــ ــ ــ هو ــ ــ ــ پوره خاندان ــ
ــ ــ جمیلې یو زړۀ چاودونکې سلګۍ
تګې تګې په خپل ګوګل دننه خښه کړه ــ
ــ ــ ــ اسوېلو یې په ټول وجود او په
لوندو غوښو اور لګولے وو خو ولې بل
څوک ددې اور نه نۀ وو خبر ــــ "(١٩)

ولور:

سلمٰي شاهین په افسانه" کاڼي او ازغي" کښې د یوې پېغلې د نفسیات بیانوي چې هغه خرڅه کړې شوے وي ــ او بیا د مور پلار د نوم نه هم نرت کوي ــ

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-49


"ما نهٔ د خپلې مور سره،نهٔ د خپل پلار
او نهٔ مې هغه خيرن پمن رونړه خوېندې
ياد شوي دي ـ ځکه چې کهٔ دولت دومره
ضروري څيز وي چې مور او پلار پرې ما
خرڅولے شي نو زهٔ په هغوي څهٔ کوم،هغوي
به څنګه وي،نهٔ مې دي ليدلي دي او نهٔ
ترې خبر يم ـ "(۲۰)

میراث کښې حصه:

کله داسې هم وي چې لوڼه خوېندې چاله نهٔ ورکوي په دې وجه چې چرته ميراث حصه او نهٔ غواړي او ددوي مال جائيداد تقسيم نهٔ شي ـ نو لوڼه خوېندې په کور زړې کړي خو چاله يې ورنهٔ کړي ـ عصمت بي بي په افسانه "ميراث "کښې دا خبره څرګنده کړې ده ـ په دې افسانه کښې ګل تاجه يو کردار دے پلار او مور يې دواړه مړهٔ دي او ورونړو سره اوسيږي ـ هغوي ودونه کړي دي او او دا نهٔ ودوي او د هغوي لکه د وينځو خدمت کوي ـ له دې وجې چې چرته د پلار په ميراث حق او نهٔ غواړي نو په کور يې کښېنولې وي ـ د هغې چې کوم احساسات وي هغه افسانه نګارې بيان کړي دي ـ

"د هغې اوښکې بيا رواني شوې ـ ـ ـ
ـ ولې چې کله به هغې سوچ کولو نو هغه
پخپله هم په چاپېرچل کښې اوسېدله
چرته چې ورونړه د خوېندو په ذکر
شرميږي،چاته يې ورکول خو لا ډېره لويه
خبره وه ـ ـ ـ هغه به کله کله په
دې سوچ هم تنګه شوله چې مخکښې خو
جهالت ځکه وو چې د اسلام رڼا نهٔ وه
او خلقو به خپلې لوڼه ژوندی خښولې ـ
ـ ـ او د پلار په ميراث کښې به يې
ورله برخه نهٔ ورکوله ـ ـ ـ خو اوس
ـ ـ ـ اوس خو حاتم النبيّن دا هر څهٔ
ـ ـ ـ هر څهٔ ختم کړي دي ـ ـ ـ ـ
رنګ نسل ـ ـ ـ اميري او غريبي ښهٔ

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-49

والي او بد والي او اوچت والي په
تقوا او په ښهٔ عمل دے نو سره د
دومره رناګانو دا خلق اوس هم په تیرو
کښي پراتهٔ دي — — — —ولي — —
— — — — ؟ اخر ولي — — — ؟؟ اوس
خو تعلیم دومره عام شو چي خلق سپوږمۍ
ته اورسېدل او پښتانهٔ — — — پښتانهٔ
نور هم جاهل او خودعرضه شول — — —
سره د دومره تعلیمه او شعوره نهٔ د
خور څهٔ رضا وي او نهٔ د لور څهٔ رضا
اهمیت لري — — — د خور لور ژړا هم
هغه څوارلس کاله پخوانی ده — — —" (۲۱)

په پښتنه ټولنه کښي ښځو ته بي شمېره مسئلي ورپېښي دي،چرته په پېسو خرڅېږي نو چرته په سوره او بدل کښي ورکړې شي — د غیرت په نوم بي ګناه بي خطا قتلولے شي — ددې د پاره د سړو په قانون کښي یا کور دے یا ګور دے — د تعلیمه نه لري ساتلے شي — د خپلي مرضۍ اظهار نهٔ شي کولي — میراث کښي حق نهٔ شي ورکولي او د هر قسمه ظلم او تشدد ښکاروي او د انسان په نظر ورته هم نهٔ ګوري — ددې ټولو ښځینه مسئلو اظهار د ښځینه افسانه نګارو لکه سیده بشره بېګم ، زیتون بانو،فهمیده کمال،مبارک سلطانه شمیم ،سلمٰي شاهین،یاسمین احمد خان،سیده حسینه ګل کاکا خېل او نورو افسانه نګارو په افسانو کښي مخي ته راځي —

حوالي

۱: ڈاکٹر سیما صغیر، تانیثیت اور اردو ادب، روایت، مسائل اور امکانات، براؤن پبلیکیشنز، نئی دہلی، ۲۰۱۸، ص، ۲۸۔

۲: روبی نورین، تانیثیت اور پاکستانی ادب (پی ایچ ڈی مقالہ) اردو ڈیپارٹمنٹ، پنجاب یونیورسٹی ۲۰۱۰ء

۳: صالحہ صدیقی، تانیثیت و مختلف نظریات، مشمولہ، اردو ادب میں تانیثت کی مختلف جہتیں، دہلی، ایجوکیشنل پبلشنگ ھاوس، ص ۳۹۔

۴: جون ہانان، عورتوں کی تحریک آزادی، ترجمہ یاسر جواد اور سعدیہ جواد، لاہور، الفیصل ناشران، ۲۰۲۱، ص، ۲۹۔

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-49

۵: اجمل ښکلے، بېوا که صورتونه، سمون خپرندویه ټولنه، ۱۳۳۹، مخ،۱۷ -

۶: فاطمہ حسن،ڈاکٹر،فیمینزم اور ہم،کراچی،وعدہ کتاب گھر،۲۰۱۳ء،ص،۲۔

۷: نظام الدین شائق،د ښځو نړی،پېښور،الازهر خپرندویه موسسه،۲۰۰۴ء،مخ،۱۸ -

۸: ډاکټرفقیر،د فقیر ﷺ غالب ترین جذبات له ترقي خوښ نظره،مشموله،فرهاد ﷺ غالب ترین (فکر-هنر- شخصیت) مولف ډاکټر فقیر ﷺ فقیر،چارسده، امن خپرندویه ټولنه،۲۰۲۵ء،مخ،۸۰ -

۹: النحل:۹۷ -

۱۰: الزمر:۹

۱۱: ابن ماجه، السنن، المقدمه، باب فضل العلماء، ۱ : ۸۱، رقم : ۲۲٤

۱۲: محمود الرشید حدوٹی،مولانا،اسلام اور عورت،لاہور،ادارہ تحقیق وتصنیف،جامعہ اشرفیہ مسلم ٹاؤن، اشاعت دوم،۲۰۰۱ء،ص،۱۱٦۔

۱۳: عبدلفتح،ښځه او تعلیم ، مشموله،اولس، کوئټه،نومبر-دسمبر ۱۹۷۵،مخ،۷۷ -

۱۴: عصمت بي بي،بلډوزر،مشموله،نیګړي ښځه،مخ،۱۲۵ -

۱۵: صحیح البخاري،النکاح ،باب اکراه البنت علي الزواج،حدیث:۵۱۳۸- ۶۹۴۵ _

۱۶: سلمٰي شاهین،ایرې،مشموله کاني او ازغي،لاهور ملت پرنټرز،۲۰۰۰ء،مخ،۱۱۳ -

۱۷: سیده حسینه ګل،خانګه،مشموله،کیسې د کوسې،مینګوره،ګران خپرندویه ټولنه،۲۰۲۵ء،مخ،۱۶۱ _

۱۸: زیتون بانو،شوکېدلے ګل،مشموله،د شګو مزل،پېښور،محکمه ثقافت خېبر پښتونخوا،۲۰۱۵ء،مخ،۶۸۹ _

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-49
ماخذ تحقیقی مجلہ

۱۹: عصمت بي بي،جل وهلے،مشموله،نيمګړې ښځه،لاهور،ملت پرنټرز،۲۰۰۰ء،مخ،۹۵-۹۶۔
۲۰: سلمٰي شاهين،کاڼي او ازغي، مشموله،کاڼي او ازغي،لاهور، ملت پرنټرز،۲۰۰۰ء،مخ،۲۳۔
۲۱: عصمت بي بي، ميراث، مشموله، نيمګړې ښځه لاهور،ملت پرنټرز،،۲۰۰۰،مخ،۱۹-۲۰۔